AFGHAN GERMAN ONLINE
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de
افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدسمیع صادق
۲۰۲۶/۰۸/۱۲

# خدای

## قصه په سلو ټکو کې

د جګړې یتیم وو. مور ئې په کورونو کې مزدوري کوله. پخوا به چې کار ته تله، زوی به ئې ګاونډیانو ته په زاریو پرېښاوه، خو هغوی به تر پاللو واهه ډېر.

نوې کور کې ښه خلک اوسېدل، زوی ئې ورسره پرېښودی.

اختر رانژدې سو. هلک وپوښتل:

«مورا! دا پلا خو نوي کالي او څپلی رانیسي؟»

مور ئې وویل:

«خدای دې ئې درکړي، زویه.»

هلک په غوسه سو:

«ته هر کال همدا وایې!»

د کور خاوند واورېدل.

د اختر په سهار ئې دروازه وټکوله. په لاس کې ئې نوې جامې او څپلی وې.

هلک ورته وکتل:

«کاکا! خدای ته یې؟»

محمدسمیع صادق


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ